Office of Children and Family Services

# د اداري عمومي کتنه

## برنامې او خدمات



*«زموږ د ماشومانو، کورنیو او ټولنو خوندیتوب، تلپاتې او هوسایینې ته وده ورکول...»*

**زموږ ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ: ocfs.ny.gov**

Office of Children and Family Services

کیپټل ویو افس پارک (Capital View Office Park)
51 واشنګټن کوڅه
رېنسېلیر (Rensselaer)، نیویارک 12144

زموږ ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ:
**ocfs.ny.gov**

که چیرې د ماشوم پاملرنې کوم وړاندې کوونکی په اړه اندېښنه لرئ، د ماشوم پاملرنې شکایت کرښې سره اړیکه ونیسئ: **1.800.732.5207**

د پالنې او زوی نیونې معلوماتو لپاره، زنګ ووهئ:
**1.800.345.KIDS (5437)**

ماشوم څخه ناوړه ګټه اخیستنې یا ناوړه چلند راپور ورکولو لپاره، اړیکه ونیسئ: **1.800.342.3720**

د پرېښودل شوی ماشوم خوندیتوب قانون په اړه معلوماتو لپاره، زنګ ووهئ:
**1.866.505.SAFE (7233)** د مشرانو خدمتونو کرښې تیلیفون شمېرې لپاره، زنګ ووهئ:
**1.844.697.3505**

که چیرې کوڼ یا په د اوریدلو کې ستونزه لرئ، نو خپل ویډیو ریلې سیستم (Video Relay System) وړاندې کوونکی ته زنګ ووهئ او وغواړئ چې تاسو هغه تیلیفون شمېرې سره چې غواړې ورته لاس رسی ولرې وصل کړي.

معلولیت لرونکو امریکایانو قانون پر بنسټ، د ماشومانو او کورنۍ خدمتونو لپاره د نیویارک ایالت دفتر به له غوښتنې سره سم دغه مواد په مناسبه بڼه چمتو کړي.

**Pub .4601-Pashto** (Rev. 09/2021)

### د کورني تاوتریخوالیخدمتونه (DV) -

OCFS د DV قربانیانو لپاره د استوګنې برنامې تنظیموي، د DV برنامو لپاره تخنیکي مرسته وړاندې کوي او له کورني تاوتریخوالی مخنیوی دفتر (OPDV) سره په سیمه ایزو ولسوالیو کې د ماشومانو هوساینه او د CPS کارکوونکو لپاره د DV روزنه کولو لپاره تړونونه کوي.

که چیرې تاسو یو څوک یاستچې پوهیږئپ د کورني تاوتریخوالي قرباني یاست او تاسو مرسته غواړئ، نو د یو عاجل سرپناه سره اړیکه ونیسئ، یا د نورو معلوماتو لپاره، لطفاً زنګ ووهئ:
د نیویارک ایالت د کورني تاوتریخوالي او جنسي تیرې تلیفوني کرښه په **1.800.942.6906** ده (انګلیسي او ګڼ ژبې)
کاڼه/په غوږونو دروند، **711** ته زنګ ووهئ

### وطنی امریکایی خدمتونه (NAS) -

OCFS، د ایالت زده کړې او روغتیا څانګو سره په ګډه، د نیویارک نهه قبایلي ملتونو او قبایلي نفوس لپاره قلمرو کې دننه یا بهر د ټولنیزو خدمتونو او مشاورې له لارې ایالتي مسؤلیتونه بشپړوي.

NAS د ایالتي ادارو او قبایلي ډلو ترمینځ یو ارتباطي پل دی. NAS د ټولنیزو خدمتونو سیمه‌ایز څانګې او د هند د ماشوم هوسایینې قانون اطاعت په اړه د سینټ ریګیس موهاک ( St. Regis Mohawk) قبیلې نظارت کوي.

### د بریا لپاره د ځوانانو پرمختګ او مشارکت څانګه (YDAPS) -

د ښاروالۍ د ځوانانو دفترونو او هغو ځوانانو لپاره چې خطر کې دي یا مجرم پېژندل شوي دي له لارې د نیویارک ایالت ماشومانو او ټول ایالتي ځوانانو د مثبت پرمختګ لپاره تمویل ښاري. YDAPS ټولو تښتېدلو او بې کوره ځوانانو د استوګنې خدمتونو، په نیویارک ښار کې کور ته نژدې اسانتیاوې او د نویو ځوانانو د توقیف سیمه‌ایزو اسانتیاو ته جواز ورکوي او تنظیموي. دا د لوی ځوانانو لپاره د روزنې پاملرنې کې د تمویل او خدماتو نظارت کوي، پشمول د تعلیمي ملاتړ، او د هغو ځوانانو لپاره چې د خطر سره مخ دي یا د انساني قاچاق ژوندي پاتې دي.نورو معلوماتو لپاره دغه وېب پاڼه وګورئ https://ocfs.ny.gov/programs/youth/ یا **518.474.9897** سره اړیکه ونیسئ.
د احتمالي قاچاق شوی ځوان لپاره لاندې ادرس ته برېښنالیک واستوئ **humantrafficking@ocfs.ny.gov**

### د بشري خدمتونو د روزنې مرکز (HSTC) -

د OCFSHSTC په مرکزي 97,000 فټ مربع د روزنې مرکز کې ټول ایالت کې د بشري خداتو متخصصینو لپاره فعالیت کوي. د هېواد قضیي کارکوونکي، د ماشوم د هوسایینې څاروونکي، داوطلبانهادارو کارکوونکي، د نویو ځوانانو د محکمې مختصصین، د ماشوم پاملرنې جواز ورکوونکي او نور کارکوونکي هلته روزنه ترلاسه کوي.

OCFS HSTC ټول هېواد کې د خپلېډول دوهم دی او روزنې سره د ټکنالوژې مدغم کولو لپاره معیار ټاکي. روزنه مختصصین په خپله برخه کې غوره کار ته چمتو کوي.

افراد به داسې روزنه ترلاسه کوي چې د صنعت غوره تمرینونه پلي کوي چې کولی شي د دوی باور پیاوړی کړي، د مسلک رضایت ته وده ورکړي او د هیوادونو ، غیر انتفاعي ادارو او نورو کار ګمارونکو ترمینځ د کارمندانو ساتلو باندې مثبته اغیزه وکړي.

HSTC د روزنې ټولګي، د کمپیوټر لابراتوارونه، له لرې واټن زده کړې او پنځه عصري کولو خونې لري. له 2,500 څخه روزل کېدونکو د 170 مختلفو کورسونو 487 لېږدونو کې ګډون وکړ، چې اکثره یې څو ورځنې دي، چې پایله کې په 2019 کې د 26,000 روزنیزو ورځو لامل شو. راتلونکو ورځو کې د روزنې تر دې هم ډېرو ورځو اټکل کېږي.

### ړندو لپاره د NYS کمېسیون (NYSCB) -

NYSCB د هر عمر قانوني ړندو نیویارک اوسیدونکو ته دندې موندلو، په بشپړه توګه ټولنې کې ونډه اخیستلو او شخصي خپلواکي ترلاسه کولو کې مرستې لپاره د بیارغونې خدمتونه وړاندې کوي.

دغو خدمتونو کې مشاوره، مسلکي مهارتونه، روزنه او ځای پر ځای کول، د حرکت روزنه، تطبیعي تجهیزات، د خپلواکه ژوند کولو مهارتونه او نور شامل دي. نورو معلوماتو لپاره، زنګ ووه:

**1.866.871.3000**

**د ماشومانو او کورنيو خدمتونو دفتر (OCFS)** – OCFS زيانمنونکو ماشومانو، کورنيو او ځوانانو؛ وطنی امريکايانو؛ قانوني ړندو؛ او د کورنۍ تاوتريخوالي قربانيانو ته د خونديتوب خدمتونه وړاندې کوي.

دغه اداره همداراز هغه کورني فشارونو چې دغو نيويارک رااوسيدونکو نو ته زيان رسولی شي له منځه وړلو لپاره مخنيوی کوونکي خدمتونه وړاندې کوي.

OCFS تقريباً د 1,500 هغو نويو ځوانانو چې جرمونه او سرغړونې يې کړي دي (خپل د استوګنځای مرکزنو کې د 650 ځوانانو په ګډون) چې د کورنۍ يا جنايي محکمو له لوري د OCFS په توقيف کې ځای پر ځای شوي دي مسؤليت لري.

OCFS همداراز د نيويارک ايالت په پالنې خدمات هم اداره کوي، پالنې ته وقف شوي ادارې او اسانتياوې تنظيموي، او هغو سيمه‌ايزو دولتونو سره چې د ځوانانو پرمختګ برنامې په لار اچوي کار کوي.

OCFS د نيويارک په ايالت کې 17,000 د ماشومانو ورځنۍ پاملرنه او 23,000 په قانوني توګه معاف شوي وړاندې کوونکي تنظيموي.

د OCFS سيمه‌ايز دفترونه د ماشوم پاملرنې برنامې، د ټولنيزو خدمتونو سيمه‌ايزې څانګې او داوطلبانه ادارې چې د ادارې موخې پر مخ وړي څارلو کې مرسته کوي.

OCFS ټول ايالت کې په 28 ولسواليو کې 3,300 کارکوونکي لري چې 100 څخه ډېرو کاري ساحو، د نيويارک ښار پنځو ساحو په ګډون کې کار کوي، او کلنۍ بوديجه يې له $3.6 مېلیارده ډالره څخه زياتيږي.

عمومي مرستې يا OCFS عممي معلوماتو لپاره، لطفاً زنګ ووهئ:

**518.473.7793** يا زموږ وېب پاڼې څخه ليدنه وکړئ:

**ocfs.ny.gov/main/**

**روغ کورنۍ نيويارک** – د امېدوارۍ پيل او له زيږون څخه وروسته تر 5 کلنۍ پورې له خطر سره مخ والدينو لپاره په کور کې خدمتونه وړاندې کوي.

دغه پروګرام د زيږون پايلې غوره کولو، د ماشوم سالم پرمختګ ته وده ورکولو، د والدين-ماشوم تعامل غوره کولو، ماشوم څخه ناوړه ګټه اخيستنې او غفلت کمولو، او والدين د پالنې په برخه کې په ځان بسيا کېدو لپاره ډيزاين شوی دی.

**د دايمي خدمتونو دفتر** – زوی نيونې داوطلبانه ادارو ته چې په نيويارک کې د ماشومانو په فرزندي نيول تنظيموي ته د صلاحيت ورکولو، د ماشوم ځای پر ځای کولو لپاره په ايالت کې دننه تړون (هغو ماشومانو لپاره چې ټول ايالت کې پالنې او په زوی نيونې لپاره ځای پر ځای شوي خونديتوب وړاندې کوي)، په فرزندي نيولو البم (زوی نيونې ته د منتظرو ماشومانو تصويري لېست)، د زوی نيونې د غوښتنليک مالي مرستې ارزونه، د احتمالي پلار فهرست (د هغو ماشومانو چې له واده پرته زيږېدلي دي د پلارا محرم سوانح)، او د خپلوي د سرپرستۍ د مرستې پروګرام (KinGAP) او خپلوي پاملرنې خدمتونو مسؤليت لري.

د زوی نيونې او خپلوي اړوند نورو معلوماتو لپاره، د نيويارک ايالت د دايمي خدمتونو دفتر سره په **1.800.345.KIDS (5437)** زنګ ووهئ.

**د لويانود خدمتونو دفتر (APS) -**

د لويانود خدمتونو دفتر د ولسوالۍ د لويانوخوندي کوونکو خدمتونو واحدونه چې د زيانمنونکو مشرانو په خدمت کې دي څاري او د هغو چې د زيانمن کېدو خطر کې دي خوندي کولو لپاره کار کوي.

APS له 18 کاله يا ډېر عمر لرونکي معيوب لويانوچې ترې ناوړه ګټه اخيستل شوې وي، له پامه غورځول شوې وي يا استحصال شوي، د هغوی په ګډون چې خپل اړتياوې په پام کې نه نيسي سره مرسته کوي.

د APS ملاتړ معيوب مشرانو سره په بريالۍ توګه ټولنې کې د ژوند جوګه کوي.

OCFS د مشرانو پروګرام لپاره کورنۍ ته ورته کور، ټولنې کې مدغم شوی، په نورو تکيه کونکو مشرانو لپاره اوږدمهال استوګنځای تظيماتو جواز ورکوي او څارنه کوي.

**د ماشومانو د پاملرنې خدمتونو څانګه -**

د ماشومانو پاملرنه په نيويارک ايالت کې د ماشوم پاملرنې برنامې، په نيويارک کې د ورځنۍ پاملرنې مرکزونو په استثنا تنظيموي، جواز ورکوي، څارنه او نظارت کوي.

OCFS همداراز له ښوونځی وروسته ګټې او ښوونځی څخه وروسته اېمپاير اسټېټ (Empire State) پروګرامونه تمويلوي، د ماشوم پاملرنې کيفيت غوره کولو لپاره د ماشوم پاملرنې د سرچينې او حوالې ادارې او نورې ادارې تمويلوي او عامه مرستې او لږ عايد لرونکو کورنيو لپاره د ماشوم پاملرنې سره مالي مرسته کوي. له دې سربېره، خپله وېب پاڼه کې د OCFS له لوري تنظيم شوي او جواز لرونکي، د ماشوم پاملرنې پروګرامونو څخه استثنا شوي ډلې فهرست ساتلی، چې خلکو ته د دغو پروګرامونو موقعيت او حالت اړوند معلوماتو ته بېړنۍ لاس رسی ورکوي.

**د ايالت په کچه ماشوم څخه ناوړه ګټه اخيستنې او ناوړه چلند مرکزي نوم ليکنه (SCR)** – له ماشومانو د ناوړه ګټه اخيستنې دغه 24/7 تيليفوني کرښه په کلنۍ ډول له مسؤلو متخصصينو او عامو خلکو څخه له ماشوم څخه د ناوړه ګټه اخيستنې، غفلت يا ناوړه چلند 350,000 تيليفوني اړيکې ترلاسه کوي. د ولسوالۍ د ماشوم د خونديتوب خدمتونو څانګې دغه راپورونه څېړي.

که چيرې شکمن ياست چې يو ماشوم ته زيان رسېدلی يا خطر کې دی، نو لطفاً د هغه څه چې مو ليدلي يا اورېدلي راپور ورکولو لپاره **1.800.342.3720** سره اړيکه ونيسئ. که باوري ياست چې يو ماشوم بېړنۍ خطر کې دی، له 911 يا د پوليسو سيمه‌ايزې څانګې سره اړيکه ونيسئ.

**پالنه** –OCFS د نيويارک ايالت د پالنې سيستم او ماشومانو لپاره لنډمهال، له کور څخه بهر ځای پر ځای کېدنې په اړه بشپړ معلومات وړاندې کوي. زموږ سرچينې او خپرونې، په انګليسي، هسپانوي او نورو ژبو، په دې اړه چې څنګه پالونکی يا په زوی نيونکی والدين شئ اضافي معلومات وړاندې کوي.

موږ بايد تل خپلو ماشومانو ته، د هغوی ژوند کې پايښت او ثبات راوستلو پر مهال غوره پاملرنه او ملاتړ وړاندې کولو کې محتايط واوسو.
د پالنې په اړه نورو معلوماتو لپاره، لطفاً له **1.800.345.KIDS (5437)** يا نږدې سيمه‌ايز دفتر سره اړيکه ونيسئ.

**د نويو ځوانانو عدالت او ځوانانو لپاره فرصتونو څانګه** – OCFS په کورنۍ يا جنايي محاکمو کې مجرم پېژندل شويو ماشومانو لپاره د نيويارک ايالت د استوګنځای خوندي، نيمه خوندي، او ناخوندي برنامې اداره کوي.

نيويارک خپل د نويو ځوانانو د عدالت سيستم بدلولو ته ادامه ورکوي او عامه خونديتوب ساتنې سره ماشومانو لپاره د پايلو غوره کولو باندې د ټولنې پروګرامونو باندې پانګونه کړې ده.

OCFS د استوګنځای ځای پر ځای کولو برنامه د جزا اصلاحي ماډل څخه پر شواهدو ولاړ، له صدمې-باخبره معالجوي ماډل ته بدلولو او اوسېدونکو لپاره د زړه کړې، عصبي روغتيا او مخدره توکو څخه ناوه ګټې اخيستنې پروګرامو غوره کولو ته ژمن دی.

**د بشري خدمتونو د اړيکې مرکز (HSCC) -**

OCFS HSCC په پېرېدونکو متمرکز عمليات دی چې هر کال 1.2 مېليونه نيويارکرانو ته دوامداره او لوړ کيفيت خدمتونو وړاندې کولو ته ژمن دی.

د نيويارک 10 ايالتي ادارو په استازيتوب اړيکې، بريښناليکونه او پيغامونه مديريت کوي، د HSCC کارکوونکي مختلفو خدمتونو برخه کې نيويارک اوسيدونکو سره د مرستې تخصص لري چې لاندېني په کې شامل دي:

- د SNAP او HEAP د ګټو غوښتنه؛
- د زيږون، واده يا مړينې سند يوه کاپي ترلاسه کول؛
- د ښوونې ګټې غوښتنه؛
- د کارکوونکو د خسارې ادعاوې يا اورېدنې سره مرسته؛
- د والي تاديه شوې کورنۍ رخصتۍ برنامه کارول؛
- نيويارک ايالت کې څنګه جواز لرونکې د ماشوم پاملرنه فعاليت وکړي؛
- له الکول يا مخدره توکو څخه ناوړې ګټه اخيستنې د متخصص کېدو غوښتنه؛
- د پرمختيا معلوليت لرونکو خلکو لپاره دفتر څخه د خدمتونو ترلاسه کول؛ او
- د جرمونو قربانيانو سره د هغوی په ادعاو کې مرسته کول.

**ځانګړي اړتياوې لرونکو خلکو خونديتوب لپاره عدلي مرکزونه** – که چيرې شکمن ياست چې يوې اداري جوړښت کې يو ماشوم زيانمن شوی يا خطر سره مخ دی، د ناوړه ګټه اخيستنې راپور ورکولو لپاره عدلي مرکز سره په **1.855.373.2122**اړيکه ونيسئ.